## مطبوعاتي اعلاميه

## د هندي جاسوس اعدامول بسنه نه کوي

## بلکې له هند سره اړیکې نه عادي کول «د ستر هند» پروژې لپار ه د مرگ حکم دی

(ژباړه)

کله چې د ۲۰۱۷ د اپریل په ۱۰مه هندي جاسوس ته، چې په پاکستان کې د دروغجنو عملیاتو سبب شو، د اعدام حکم وارول شو، په پاکستان کې یې هرکلی وشو؛ مگر دا بسنه نه کوي. په حقیقت کې دا د چارواکو غولونکې هڅه ده. له یوه لوري هندي جاسوس ته د مرگ په محکومیت مسلمانانو ته په ځانگړې توگه فوځ ته د هند پر ضد احساسات ورکوي، له بل لوري همدا چارواکي د ټرمپ ادارې په مشرۍ د اړیکو د عادي کولو په توگه له هند سره د خبرو اترو لپاره لاره هواروي. که حکام؛ پاکستان، مسلمانانو او اسلام ته په ریښتینې توگه مخلص وای، نو دوی به له هندي حکومت سره د یو یرغلگر دولت په توگه عمل کړی وای او د اړیکو د عادي کولو پالیسي به یې بنده کړې وه، چې د بهاراتیا جاناتا په مشرۍ هندي رژیم ته د «ستر هند» پروژې د ایجاد لپاره د اعدام حکم لري.

که چارواکي مخلص وای، دوی به د فوځي اړیکو د عادي کولو پالیسي بنده کړې وه، چې په وسیله یې پاکستاني چارواکي له هندي پوځ سره مرسته کوي او د کشمیر پر وړاندې په وسله وال مقاومت بوخت دي. په داسې حال کې چې دوی زموږ له پیاوړې فوځه غوښتنه کوي، چې د هند د دښمنۍ په مقابل کې د «زغم» سیاست تمرین کړي. خو د پاکستان حکام د هغو ډلو او خوځښتونو د ځپلو هڅه کوي، چې د اشغال شوي کشمیر د ازادۍ لپاره هڅه کوي. دا هرڅه یواځې د هند په غوښتنه کیږي، لکه څرنگه چې د هند د بهرنیو چارو ویاند «ویکاس سواروپ» د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۷مه داسې وویل: «یوازې ربښتیني عملیات د پولې په اوږدو کې د ترهگرو پر وړاندې د پاکستان ربښتینولي ثابتولای شي.»

که چارواکي مخلص وای، نو دوی به د سیاسي عادي کولو پالیسي له منځه وړې وای، چې په وسیله یې پاکستاني چارواکي د ټرمپ له ادارې سره مرسته کوي، تر څو له اسلام سره زموږ ژورې اړیکې پرې کړي، هغه اسلام چې د هندي دولت د واکمنۍ لپاره تر ټولو لوی خنډ گڼل کیږي. یوازې اسلام، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تگلاره د خلافت په تاسیس د هند په نیمه قاره کې په سلگونو میلیونه مسلمانان سره راټول او یو موټی کولی شي.

که حکام مخلص وای، دوی به د اقتصادي اړیکو د عادي کولو پالیسي له منځه وړې وای، چې په وسیله یې د پاکستان خاین چارواکي په اسلامي خاورو کې هند ته فرصتونه برابروي. نو له یوه لوري دوی هندي شرکتونو ته د پولو پرانیستلو هڅه کوي، په داسې حال کې چې زموږ خپل صنعت او کرنه د انرژۍ د کمښت او ملا ماتوونکو مالیاتو له امله په ټپه دربېدلې. له بل لوري رژیم هند د چین - پاکستان په

اقتصادي دهلېز (CPEC) کې د یو ځای کېدو لپاره هڅوي، چې په وسیله یې پاکستان په سودي قرضونو کې ډېر ډوب شوی او خپلې زیاتې مهمې سرچینې یې د چین په مالکیت کې ورکړې دي.

**اې د پاکستان د وسله والو ځواکونو مخلصو افسرانو!** د هند پر وړاندې په دا ډول کړنو زموږ په سترګو کې خاورې اچوي. جنایتکار چارواکي زموږ مخه نیسي، زموږ د دښمنانو په ملاتړ سره زموږ پر دین بریدونه کوي. هغوی شپه او ورځ کار کوي، چې هند پر سیمه پر یو مسلط ځواک بدل کړي. تاسو نهیلي کوي او له شته واقعي قدرت څخه مو غافل کوي. همدا اوس د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ، چې ستاسو لپاره د الله سبحانه وتعالی په لور لار او وسیله وي، تر څو د الله سبحانه وتعالی صالح بنده ګان او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو په څېر وئ او ستاسو په لاسونو د هند فتحه وشي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې زیری ورکړی. هغه صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**عِصَابَتَانِ مِنْ أُمَّتِي أَحْرَزَهُمَا اللَّهُ مِنْ النَّارِ عِصَابَةٌ تَغْزُو الْهِنْدَ وَعِصَابَةٌ تَكُونُ مَعَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلَام**» (رواه احمد و نسایی)

*الله سبحانه وتعالی زما د امت دوې ډلې د جهنم له اوره ساتي: یوه هغه ډله چې هند به فتح کوي، بله هغه چې له عیسی بن مریم سره به وي.*

له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«**وَعَدَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ الْهِنْدِ فَإِنْ أَدْرَكْتُهَا أُنْفِقْ فِيهَا نَفْسِي وَمَالِي فَإِنْ أُقْتَلْ كُنْتُ مِنْ أَفْضَلِ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ أَرْجِعْ فَأَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ الْمُحَرَّرُ**» (رواه احمد، نسایی و حکیم)

رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته د هند د غزا او کامیابۍ وعده راکړې. هغه وفرمایل: که زه په هغه وخت کې وم، نو په خپل ځان او مال به وجنګېږم او که ووژل شوم، له غوره شهیدانو څخه به وم او که غازي راستون شوم، نو زه به له ګناهونو پاک ابوهریره وم.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: PR17020 M**

**۱۴۳۸، د رجب ۱۴ مه**

**۲۰۱۷، د اپریل ۱۱ مه**